دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

شهادت
اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

الهی فرمان

ای مؤمنانو! پر تاسو روژې فرض کړي شوي دي لکه چې له تاسونه پرمخکنیو امتونو فرض کړې شوي وه تر څو پرهیزگاران شئ. د روژې ورځې په شمار دي، هر څوک چې له تاسونه په دغو ورځو کې ناروغ شي او یا په سفر کې وي نو په نورو ورځو کې دې دغه پاتې روژې ونیسي. (سورة البقره)

نبوي ارشاد

له حضرت عبدالله بن عمرو رضی الله عنه څخه روایت دی چې محمد صلی الله علیه وسلم وفرمایل:
روژه او قرآن کریم د قیامت په ورځ د بنده لپاره شفاعت کوي، روژه خپل رب ته وایي: ای ربه! بیشکه ما دغه روژه نیوونکی تولـه ورځ له خـوراک څـښاک او دده د نورو خوښي څیزونو څخه منع کړی و، نو ددې په حق کې زما شفاعت ومنه، قرآن کریم خپل رب ته وایي: ای ربه! ما دې د شپې له خوبه بند کړی و تر څو تهجد لمونځونه وکړي او قرآن کریم ولولي نو دده په حق کې زما شفاعت ومنه. نو الله تعالی ددوی دواړو شفاعت پخپل دربار کې مني. (مشکواة)

شهادت دویم کال، ۷۰ مه گڼه، سه شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د زمری ۱۹ مه د۱۴۳۱ هـ ق د شعبان المعظم ۲۹ مه د ۲۰۱۰ م د آگست ۱۰ مه

ولسمشر حامد کرزي د خصوصي امنیتي شرکتونو د بندیدا امر وکړ

کابل، رسنی:
د افغانستان ولسمشر امر کړی دی چې خصوصي امنیتي شرکتونه باید فعالیت پریږدي. دغه امر نه یوازې کورنیو خصوصي شرکتونو ته دی بلکې بهرني هغه هم پکې راځي.
د طالبانو د حکومت له نسکوریدا راهیسی گڼ شمیر بهرني او کورني خصوصي امنیتي شرکتونه جوړ شول.
دغو شرکتونو د مرستندیو ټولنو امنیتي چارې سمبالولې او یا یې د پیسو په بدل کې نورو ادارو او افرادو ته د باډي گارډانو د ورکولو دنده ترسره کوله. په دوی کې ډیرو د سړک جوړولو او نورو بیا رغونکو پروژو قراردادیانو ته د ځان ساتونکو کار هم کاوه. څینې یې بیا د امریکا د پوځ لپاره په فعالیت بوخت و. د دغو شرکتونو ډیره برخه د بهرنیانو وه خو څینو افغانانو هم دا ډول شرکتونه جوړ کړي و.
پر خصوصي امنیتي شرکتونو ډیر تورونه ولگیدل چې خود سره کار کوي. پر دوی دا تور هم و چې گواکې خصوصي زندانونه لري او خپل قانون چلوي.

پاتې ٤ مخ

جنرال حمید گل په ایتلافي ځواکونو د حملو پلانونه جوړوي

PROPERTY OF ACKU

انټرنشل هیرالډ ټربیون ورځپاڼه:
د ویکي لیکس موسسې څو ورځې وړاندې د افغانستان دجگړې په اړه په زرونو پټ اسرار او راپورونه افشا کړل او په نورو مسلو سربیره دا یې هم په ډاگه کړه چې د پاکستان استخباراتي اداره لا هم په افغانستان کې د وسله والو ملاتړ کوي.
په اسنادو کې ویل شوي چې ددې ادارې پخوانی مشر جنرال حمید گل په افغانستان کې په ناټو او ایتلافي ځواکونو باندې د حملو پلانونه جوړوي.
په افشا شویو راپورونو کې ویل شوي چې حمید گل اعتراف کړی د اختر په ورځو کې یې په کابل کې پر ایساف ځواکونو باندې د سړک د غاړې بمي چاودنو لپاره درې کسان استولي وو.
د جنرال حمید گل د کارونو او وسله والو سره د هغه د تړاو په اړه انټرنشنل هیرالډ تریبون ورځپاڼې یوه مقاله لیکلې.
په افشا شویو اسنادو کې ښودل شوې چې جنرال حمید گل دوه کسان موظف کړي و چې په کابل کې د هغه سړک په اوږدو کې افغان او

پاتې ٤ مخ

زرداری: روزهای قدرت آی، اس، آی به پایان رسیده است

دیلی تلگراف:
آصف علی زردای رییس جمهور پاکستان ادعا می کند که گویا دوران سازمان جاسوسی در کشورش خاتمه یافته است.
زرداری این موضوع را در جریان دیدار ۵ روزه اش بعد از ملاقات با دیوید کامیرون صدراعظم بریتانیا به روزنامهء دیلی تلگراف بیان کرد.
در این اواخر روابط میان بریتانیا و پاکستان با تنش های سیاسی مواجه بوده است. تنش ها بعد از آن افزایش یافت که صدراعظم بریتانیا در اواخر ماه گذشته در جریان سفرش از هند گفت که پاکستان در صدور تروریزم به خارج از مرز های آن کشور دخیل است.
اتهامات کامیرون توهین شخصی به زرداری تلقی شد، ولی به نوشتهء دیلی تلگراف، گفته های صدراعظم بریتانیان متوجه آی، اس، آی، یا سازمان استخبارات نظامی پاکستان بود.
دستگاه جاسوسی که از دیر زمان بدین سو فراتر از صلاحیت های رهبر ملکی آن کشور عمل می کند.

بقیه در صفحه ۴

د افغانستان د تجزیه کېدو هیڅ امکان نشته

دریم مخ

آیا تلاشهای حامد "کرزی" در مورد جلب همکاری و اشتراک مخالفین در دولت به نتیجه خواهد رسید؟

صفحه دوم

زندان مخفی امریکا در هلمند توسط "عبدالسلام ضعیف" فاش شد

خبر گزاری فارس:
سفیر سابق طالبان در پاکستان وجود زندان مخفی امریکا در ولایت هلمند را فاش کرد که در آن بیش از هزار افغان زندانی هستند.
عبدالسلام ضعیف در گفت‌وگو با خبرنگار خبرگزاری فارس در کابل، از وجود یک زندان مخفی دیگر در ولایت هلمند خبر داد.
عبدالسلام ضعیف اظهار داشت: این زندان در پایگاه نظامی "شوراب" نیروهای امریکایی در ولایت هلمند قرار دارد و ۱۰۵۰ افغان در آن زندانی هستند.
به گفته عبدالسلام ضعیف، دولت افغانستان، سازمان ملل، صلیب سرخ و هیچ سازمان بین المللی دیگر از وجود این زندان

بقیه در صفحه ۴

سایت ویکی لیکس قصد دارد در آینده نیز معلومات محرم را منتشر نماید

خبر گزاری ریا نووستی:
رهبری سایت Wikileaks که اسناد رسمی در باره عملیات جنگی در افغانستان منتشر ساخته است، در نظر دارد در اینده نیز هر نوع معلومات که برای مدیرت سایت قابل دسترسی باشد، منتشر نماید، در این باره در روز یکشنبه اژانس اسوشیتید پرس خبر داده است.
اژانس به نقل قول از نماینده سایت چنین خبر داد: " من میتوانم به شما اطمینان دهم که ما در اینده نیز اسناد را منتشر خواهیم ساخت که در دسترس ما قرار گیرند. باید دانست که در افغانستان چه میگذرد، این یگانه چیزی است که مصئونیت ما را تامین کرده می تواند."

بقیه در صفحه ۴

سناتور فرنک وولف:
په افغان جگړه کې مو هدف معلوم نه دی

امریکا رسنی:
د متحدو ایالاتو یوه مخکښه سناتور فرنک ار وولف ولسمشر بارک اوباما ته په یوه لیک کې لیکلي چې په افغانستان کې یې هیواد نهه کاله جنگ وکړ خو لا هم څرگند هدف نه لري چې په سیمه کې څه غواړي.
د ویرجینیا ایالت دغه استازی چې د جمهوري غوښتونکو په گوند کې دی غوښتنه لري چې د افغانستان او پاکستان د مطالعاتو یو گروپ باید جوړ شي.
سناتور وولف زیاتوي د افغانستان د جگړې ته باید له نوي سره وکتل شي.
((ولسمشر اوباما ته په لیک کې سناتور زیاتوي: زموږ د هیواد تر ټولو اوږده جگړه اوس د افغانستان ده چې نهه کاله پرې تیریږي.
خو د امریکا ټاکل شوي استازي په دې نه پوهیږي چې دغه جگړه په کوم لور روانه ده او کوم هدف ترلاسه کوي.

پاتې ٤ مخ

قاچاق مواد مخدر ریشه در خارج از افغانستان دارد

کابل رسانه ها:
وزیر مبارزه علیه مواد مخدر افغانستان به خاطر کنفرانس ولایتی کمپاین آگاهی عامه قبل از کشت کوکنار وارد ولایت هرات شد، و یک کلینک ۴۰ بستری جهت تداوی معتادین را افتتاح نمود.
زرار احمد مقبل وزیر مبارزه علیه مواد مخدر در یک نشست خبری گفت:
در صورت نتایج سروی کشت کوکنار از ولایت هرات صفر نشان دهد، مبلغ یک میلیون دالر به این ولایت کمک خواهد شد.
وی اظهار داشت در آینده نزدیک برای دهقانانی که در کوپراتیف های زراعتی شامل اند، ۳۰ عراده تراکتور توزیع می گردد.
آقای مقبل اضافه کرد، برای جلوگیری از روی آوردن دو باره دهقانان به کشت مواد مخدر، یک سلسله برنامه های به همکاری وزارت زراعت و انکشاف دهات روی دست دارند که مستقیماً به زنده گی دهقانان کمک خواهد کرد.

بقیه در صفحه ۴

د بشر حقوق: په تېرو ۷ میاشتو کې ۱۳۲۵ ملکیان وژل شوي

کابل رسنی:
د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسیون (دیکشنبې په ورځ) دولسي جرگې د انتخاباتو او په افغانستان کې د ملکي تلفاتو په اړه دوه بېلا بېل راپورونه خپاره کړل.
د ملکي تلفاتو په اړه په خپاره شوي راپور کې ویل شوي چې د وسلوالو طالبانو، بهرنیو ځواکونو او افغان سرتېرو له لوري په تېرو ۷ میاشتو کې ۱۳۲۵ تنه ملکی وگړي وژل شوي دي.
راپور زیاتوي اکثره ملکیان دافغانستان په جنوب اوشمال کې وژل شوي دي، چې د افغانستان تر ټولو ناامنې سیمې دي او زیاتې چارې هم په کې په ټپه دربدلې دي. ملکي تلفات هغه ستونزه ده چې په تېرو نهو کلونو کې یې د مخنیوي په برخه کې زیاتې ژمنې وشوې او ورسره دغه ستونزه لا پسې پراخه شوه.
دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې بهرنیو ځواکونو او وسلوالو طالبانو د خپلو پوځي لاربشودونو د جوړولو اعلان وکړ، چې

پاتې ٤ مخ

د حزب اسلامي مشرتابه او رهبري شورئ د روژې د مبارکې میاشتې په رارسېدو ټولو مسلمانانو ته مبارکي وایي

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د بخښنو، رحمتونو، برکتونو او فضیلتونو میاشت

الحمدلله د روژې مبارکه میاشت یو ځل بیا له خپلو ټولو رحمتونو او برکتونو سره راورسیده، بختور دي هغه خلک چې د روژې د میاشتې له برکتونو برخمن کیږي، له گناهونو څخه ځانونه پاکوي او د الله جل جلاله د رحم او مهربانۍ مستحق گرځي. د روژې مبارکه میاشت د تقوی او پرهیزگارۍ دترلاسه کولو تر ټولو لوی او قیمتي چانس دی، دا د گناهونو د رژیدو ځانگړې میاشت ده چې یو انسان د روژې د میاشتې د ټولو آدابو په ترسره کولو ددې جوگه کیږي چې لوی الله دهغه مخکیني گناهونه وبخښي.

د روژې په مبارکه میاشت کې چې یو مسلمان څومره ثواب او د الله رضا ترلاسه کولې شي په ټول کال کې هومره اجر او ثواب نه شي ترلاسه کولې. مطلب دا چې د روژې میاشت د الله له لوری پر خپلو مسلمانو بنده گانو یو ځانگړې لورینه او مهرباني ده چې د خپلو مؤمنو بندگانو د بخښلو لپاره یې لورولی ده. ابي هریره رضی الله عنه له محمد صلی الله علیه وسلم نه روایت کوي چې هغه صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

هر چا چې د ایمان له مخې د ثواب دترلاسه کولو په نیت روژه ونیوه نو دهغه مخکیني گناهونه بخښل کیږي. او هر چا چې د روژې په میاشت کې د ایمان له مخې د ثواب د ترلاسه کولو په خاطر د شپې لمونځونه وکړل نو دهغه مخکیني گناهونه بخښل کیږي، او هر چا چې د ایمان له مخې د ثواب د ترلاسه کولو په مقصد د قدر په شپه د الله عبادت وکړ نو دهغه مخکیني گناهونه ورته بخښل کیږي.

د الله هر مؤمن بنده چې د روژې د مبارکې میاشتې روژې یواځې د الله له ویرې په دې جذبه ونیسي چې دا د الله له لورې پر ما فرض شوې دي او لوی ثواب پکې دی، همداراز د روژې په میاشت کې د شپې په وخت په اخلاص سره د تراویح لمونځونه وکړي، د قرآن کریم تلاوت او په نورو ذکر و اذکار کې بوخت شي، همدغه راز د الله تعالی د رضا دترلاسه کولو په خاطر آخري لس ورځې د لیلة القدر د ثواب د گټلو په مقصد اعتکاف وکړي، نو دهغه د ژوند ټول واړه گناهونه هم بخښل کیږي او په کبیره گناهونو کې یې هم تخفیف راځي.

د روژې اصل مقصد دادی چې په دې میاشت کې مسلمانان په ځانگړې اهتمام له ټولو گناهونو څخه په کلکه ډډه وکړي او له ټولو هغو کارونو څخه لاس په سر شي چې د گناه باعث گرځي، لوی الله پخپل کتاب قرآنکریم کې د روژې مقصد دا ښودلی دی چې په خلکو کې د تقوی احساس او جذبه راژوندې شي.

د کال په اوږدو کې چې د چا د تقوی احساس کمزوری شوې وي او یا هم وربانديې د گناه دوړه پرېوتې وي هغه بېرته ژوندې او صفا شي. دهغه چا روژه چې دهغه په زړه کې د تقوی قوي ماده، احساس او جذبه پیدا نه کړي په حقیقت کې هغه د روژې د میاشتې له لوی نعمته محروم دی، او نشي کولی چې د الله تعالی رحم او عاطفه ترلاسه کړي.

الله تعالی د چا روژو ته محتاج نه دی چې خپل بنده گان بې مقصده لوږې تندې ته اړ کړي بلکې په دې کې هغه جل جلاله د خپل بنده هغه تقوا او خیر ښېگڼه په نظر کې نیولې ده چې د روژو د بشپړو ادابو او شرائطو په رعایت کولو سره پخپله هغه او ټولنې ته یې رسیږي.

راځئ د روژې د میاشتې ریښتونی قدر او قیمت وپېژنو، ددغې میاشتې د برکتونو او د الله تعالی د رضا او خوښی دترلاسه کولو لپاره د همت ملاوې وتړو، د روژو نیولو کوم حقوق او شرائط چې د الله غوره نبي محمد صلی الله علیه وسلم موږ ته ښودلي دي ټولې روژې دهغو په رڼا کې ونیسو، داسې هېڅ حرکت او کړنه ترسره نه کړو چې د روژې اصل مقصد له منځه وړي او له هغو ډېرو ثوابونو او بخښنو څخه مو محروموي چې لوی الله په دې میاشت کې په صحیح معنی خپلو روژه دارو بنده گانو ته ورکوي، راځئ په دې میاشت کې د خپل اخلاص او عاجزۍ په ښکاره کولو سره د سخي الله لوی سخاوت، لورینه، عاطفه او رحم ته د محتاجۍ څولۍ ونیسو، د خپلو تېرو گناهونو د بخښنې او جبران په خاطر له دې اوچت فرصت نه گټه پورته کړو، خدای خبر راتلونکې روژې پورې به موږ ته ژوند چانس راکوي او که نه.

راځئ ټول افغانان په دې مبارکه میاشت کې چې د گناهونو د بخښل کیدو او د الله تعالی د خصوصي رحم او پیروزینې میاشت ده په گډه دا عهد وکړو چې نور له خپلمنځي ناروا اختلافاتو او جگړو نه لاس اخلو او دهغه جل جلاله له قانون او حاکمیت پرته د بل چا قانون او حاکمیت ته سر نه ږدو.

که موږ واقعاً روژه د تقوی د ترلاسه کولو لپاره ونیسو او د الله د رضا او بخښنې د کسبولو پرته مو بل هیڅ مقصد نه وي نو په یقیني ډول دا ویلي شو چې الله تعالی به د خپلې مهربانۍ له مخې زموږ ټول مسائل او کړاوونه له منځه وړي او موږ افغانان به د امن راحت او خوشال ژوند خاوندان کیږو.

آیا تلاشهای حامد "کرزی" در مورد جلب همکاری و اشتراک مخالفین در دولت به نتیجه خواهد رسید؟

زیارمل

قسمیکه تجربه ثابت نموده و مردم ما بخوبی میدانند صداقت، راستی و دیانت متضمن خیر و صلاح فرد و جامعه بوده و مسلمانان با الهام از دساتیر الهی و ارشادات نبوی صلی الله علیه وسلم بیش از همه به این امر معتقد می باشند. زیرا پیامبر بزرگ اسلام در حدیث (انما الاعمال باالنیات) موفقیت، کامیابی و کامگاری مؤمنان مخلص را در صورت عملی کردن اظهارات شان مژده داده تا مسلمانان مخلص، متدین و با تقوا ضرورت و انجام نیک این ارشاد جامعه ساز را که اسباب سرفرازی، کامیابی وقار و اعتماد مؤمنین را میسر می سازد پیروی و در سرلوحه اعمال و مسؤولیت های اسلامی خویش قرار دهند.

علاوتاً اظهارات و توجه عارفان، سالکان، دانشمندان و همه نیک مردان قرون متمادی تاریخ پربار و افتخار آفرین اسلامی مسلمانان را به تعمیل این امر نیک مبذول داشته و یکی از شخصیت های علمی در جمله اینکه (کاریکه به درستی آغاز گردد نیمه آن اتمام و موفقیت در آن حتمی است.) مصداق ارشادات فوق الذکر و نوید دهنده کامیابی در امور خطیر زنده گی می باشد. بناءً: آنچه از لابلای کتب، نوشته ها و رسالات باقیمانده بزرگ مردان و متفکرین اسلامی، علمی و تاریخی بدست داریم همه و همه بیانگر این امر است تا به تأسی از آیه منظمهٔ (یَا أَیُّهَا الَّذِینَ آمَنُوا لِمَ تَقُولُونَ مَا لاَ تَفْعَلُونَ) در قول و عمل صادق و متعهد باشیم و خدعه و فریب و ریا را که خداوند عالمیان از آن بیزاری دارد مردود بشماریم زیرا خداوند جل جلاله ذات (خیرالماکرین) است و آنانیکه بخواهد چنین اعمال را انجام دهند با آنان چنانکه خواهد معامله می نماید پس ذات بی همتایی که بر ما فی الضمیر ما حاکم، بصیر و خبیر است نباید به انجام اعمال و کارکردهای مبادرت ورزیم که خلاف هدایات وحی الهی و ارشادات پیامبر راستین و واپسین ما باشد. با یاددهانی این گهرهای ناب عقیدتی و ایمانی مسلمانان مخلص و متعهد همواره برآنند تا اعمال خویش را در ترازوی الهی قرار دهند و ذرهٔ از آن عدول نمایند زیرا پاداش آنچه بر کذب، موالات با کفار و تیری با مؤمنین استوار باشد از جانب خداوند قهار و جبار نتیجتاً داده خواهد شد. پس مؤمنین وظیفه دارند تا نه چنین بلکه برخلاف: موالات را با مؤمنین و تبری را با مشرکین و کفار روا بدارند تا مورد عنایت و تفقد الهی قرار گیرند. آنچه در شرایط کنونی خواسته و یا ناخواسته و یا مبنی بر دلایلی بر ما مستولی گردیده باید در رفع و حل آن مطابق او امر الهی و ارشادات نبوی صلی الله علیه وسلم مدبرانه و عاقلانه تصمیم اتخاذ نموده با کشور و مردم مجاهد و مسلمان خویش را که در طول حیات مبارزاتی و سلطه ستیزی، حماسه آفرینی ها، مجاهدت، جان نثاری و فدا کاری شان نیست صفحات ازین تاریخ مبارزات ملت ما و جهان است به معامله نگیریم. و از جانبی خود را از پیکر جهان اسلام و مسلمین بیش ازین مجزا نسازیم. و این همه زمانی برآورده می گردد که هویت و حیثیت افغانی را حفظ نموده عنان قدرت، رهبری و اداره کشور را در همه عرصه های سیاسی، نظامی، اقتصادی، فرهنگی و کلتوری بدست بگیریم و یا تدویر مجامع ملی و بین المللی تلاش نماییم تا ویرانی ها، بمباردمانهای کورکورانه ملکی خودسری ها و بکار برد همه مظالم ناروا و ناجایز را به مشوره قرار داده به یاری و کمک جامعه جهانی راه حل مناسب و قابل قبول را جستجو نماییم تا بیش ازین افغانهای بی گناه، اطفال مکتبی، پیران و جوانان اعم از زنان و مردان بی گناه طعمه جنگهای نابرابر و تحمیلی نگردند. و کشور ما به صلح دایمی و سرتاسری دست یابد. که این خود بخیر ما و همه مردمان کشورهاییست که در وطن ما مصروف جنگ با مخالفین می باشند. آنچه قابل ذکر است همانا شرایط و معیارهای مصالحه واقعی می باشد که باید طرف های متخاصم و درگیر در ترتیب و پیشنهاد آن جانب انصاف را رعایت بدارند. نه اینکه هر یک بر مواضع خویشتن و قبول شرایط و فیصله های خود اصرار وربرام بورزند. که این موقف به نتیجه یی منتج نخواهد شد. قسمیکه میدانیم افغانستان بیش از هر وقت دیگر به استقرار صلح و ثبات، انکشاف و توسعهٔ اقتصادی، فرهنگی و سایر عرصه های حیات اجتماعی ضرورت دارد و آنانیکه متصدی امور و نظام مملکت هستند لزوماً بخاطر یاد تاریخی شان تمام امکانات معنوی را در زمینه بکار برند. تا تاریخ آینده کشور اینان را در زمره زمامداران بی عقیده پیشین محسوب نکنند.

تا جاییکه بیانات و اظهارات عدهٔ از سران مخالفین از طریق رسانه های داخلی کشور شنیده می شود هر یک از عدم صداقت و استمرار تلاشهای مؤثر گلایه هایی داشته و دارند. که باید از نظر ما به آن توجه خاص مبذول و تدابیر لازم اتخاذ گردد تا خدا بخواهد در نتیجه عزم متین و تلاشهای صادقانه و میانجی گرانه عدهٔ از کشورهای مؤثر اسلامی به نتایجی دست یابیم. باز هم از نظر عدهٔ از کارشناسان و تحلیل گران امور سیاست فعلی تحرک ضعیف، سردی مناسبات و شرایط غیر قبول مخالفین در مرحله کنونی بخوبی نمایانگر سؤظن ها از قبل فقدان صلاحیت زمامداران افغان مستولی می باشد عده یی را بر آن داشته که به تکمیل پروسه مصالحه بین الافغانی به دیده شک و تردید بنگرند لهذا: لازم است تا جناب رئیس جمهور و سایر مقامات به زعم کارشناسان و تحلیل گران سیاسی موضع مناسب تر و قابل قبول و صادقانه را اتخاذ بدارند تا به نتایج سالم منتهی گردد. و در غیر آن تلاشهای کند و سرد فعلی که جدیت، استمرار و حمایت فعال و مؤمنانه عدهٔ از کشورهای اسلامی و منطقه را با خود ندارد به این ساده گی به جای نخواهد رسید. پس لازم است تا حکومت و دولت افغانستان با کسب صلاحیت های اجرایی و تصمیم گیری مستقلانه راه برون رفت از چالش های فعلی را میسر سازند. تا از کشتار مردم رنجدیده و بلاکشیده و ویرانی بیشتر کشور جلوگیری گردد.

(ومن الله التوفیق)

محمد خليل

د افغانستان د تجزيه کيدو هيڅ امکان نشته

له دې تاريخي جبر نه هېڅوک انکار نه شي کولې چې د انساني تاريخ په اوږدو کې استعماري او پراختيا غوښتونکو ځواکونو تل لپاره د نورو هېوادو اولسونو ترمنځ بې اتفاقي اچولې او دهغوی د تجزيه کولو ناوړه کوښښونه يې کړي دي.

که چېرته د تاريخ پر کتابونو نظر واچوو نو داسې ډېر ثبوتونه به په ډاگه شي چې استعماري ځواکونو د تاريخ په مختلفو پړاوونو کې د خپلو شومو اغراضو او مقاصدو د ترلاسه کولو لپاره ډېر هېوادونه تجزيه او په ځو برخو يې ويشلي دي. د استعماري ځواکونو له خوا داسې ناولی هلې ځلې وخت په وخت د افغانستان لپاره هم په کار اچولې شوي دي خو الحمدلله تر اوسه پخپلو ټولو پلانونو او مقاصدو کې ناکام او مختورن شويدي.

اوس يو ځل بيا چې افغانستان د خپل تاريخ له حساسو او نازکو شرائطو څخه تيرېږي د افغانستان قسم خوړلي او ازلي دښمنان په دې پلان کار کوي چې د افغانانو ټاټوبې تجزيه او ځان له پاره د حلوا نرمه نوړی جوړه کړي تر ځو وکړی شي په آسانه له مری تېر او هضم يې کړي. خو د افغانستان غيرتي، اتل او زيرک ولس بشپړ ډاډ لري چې د نړی هېڅ يو ځواک ددې توان نه لري چې د افغانستان د تجزيه کولو په شوم پلان کې برلاسي شي ځکه چې د افغانستان د تجزيه کېدو لپاره داسې کوم بنسټيز عوامل له سره نشته چې له امله يې د تجزيه کيدو امکانات موجود وي بلکې ددې برعکس د افغانانو د يووالي او ملي استحکام لپاره دومره ډېر عوامل او لاملونه شته چې تجزيه کېدو ته يې نه پرېږدي.

د يو مسلمان هېواد د ولس د يووالي لپاره تر ټولو لوی او مهم څيز د مسلمانانو گډه عقيده او اسلامي نظريه ده د اسلام دغه سپېڅلی عقيده هغه بنيادي عنصر دی چې ټولې پرگنې او قومونه د اسلام په مضبوط او نه شليدونکي مزي کې پيري. پخپلو کې يو ځان او يو روح کوي او نه پرېږدي چې تجزيه شي.

گردی نړی ته معلومه ده چې د افغانستان د وگړو ۹۹ سلنه مسلمانان دي، او د يو الله، د يو رسول او د يو مذهب پيروان دي. افغانستان يواځينی هېواد دی چې ددې په هر گوټ کې مختلفی پرگنی يو ځای او يوه سيمه کې په گډه ژوند کوي، له يو بل سره خپلولي او ټينگې اسلامي اړيکی لري، په يو مسجد کې يو ځای ځنگ په ځنگ لمونځونه کوي، د يو بل په غم او ښادی کې د زړه له اخلاصه گډون او مرسته کوي.

د نورو هېوادو قومي جوړښت په پرتله د افغانستان قومي جوړښت ډېر مضبوط دی دا ې کوم اساسي علت او اختلافي نکته پکې نشته چې د تجزيه کېدو امکانات رامنځ ته کړي، ځکه خو د تاريخ په ټولو پړاوونو کې په يو غږ او يوه موټې د خپلې عقيدې او خاورې په ميړانه ساتنه کړې او هېچاته يې اجازه نه ده ورکړې چې دهغوی زمکنی بشپړتيا او ملي وحدت زيانمن کړي. که چېرته د يو هېواد تجزيه د مختلفو پرگنو د ميشت له کبله کيدای شي نو بيا خو له افغانستان نه زيات په نورو هېوادو کې داسې گڼې پرگنۍ او قومونه اوسيږي چې ديني، مذهبي او عقيدوي لاره يې سره جلا او له اختلافه ډکه ده پکار خو داده چې لومړی همغه هېوادونه تجزيه شي. که هغه هېوادونه نه تجزيه کيږي نو د افغانستان هېواد دې ولې تجزيه شي؟ !

که د هېوادونو تجزيه کيدل ښه او ولس لپاره گټوره وای نو بيا د پخوانی شوروي اتحاد له اړنگيدو وروسته مشرقي او جرمني اولسونه سره ولې بېرته يو ځای شول، په دوه برخو ويشل شوی د جنوبي او شمالي سيمې وگړي ولې پخپلو کې يو موټې شول؟ ددوی په څېر نور تجزيه شوي هېوادونه هم درواخله چې نن سبا د وروري په فضاء کې د يو هېواد د پولو په احاطه کې د اتفاق ژوند تيروي.

د افغانستان بدخواه او ددې د تجزيې خوب ليدونکی شيطاني عناصر دی دا واقعيت ومني چې دهغوی دغه ناروا ارمان به کله هم ترسره نه شي، د افغانستان غوښ اکثريت له خپل دين، عقيده، خاوره، استقلال، زمکنی بشپړتيا، ملي وحدت او افغانيت سره کلکه مينه لري. په هېڅ قيمت نه غواړي چې د هغوی ملي يووالي او زمکنی بشپړتيا له خطر سره مخامخ شي، له يو بل نه جلا او د استعماري ځواکونو د غلامی حلقه په غاړه واچوي.

افغانان د خپل تاريخ په اوږدو کې له ټولو نه زيات د امتحان او صبر په بټی کې پاخه شويدي دوی ددنيا ډېری تودی سړې او پرديو ناکردې ليدلي دي، د هر چا په ښه او بد نيت ښه پوهيږي، ځکه خو هر استعماري او اشغالگر ځواک پخپل وار په افغانستان کې له تاريخي او نه هېريدونکي ماتې سره مخامخ شوی دی، لکه څنگه چې افغانانو پرون د خپلې خاورې زمکني بشپړتيا په خپلو ککريو ساتلې وه نن هم بشپړ توان لري چې د خپل ملي وحدت، ملي هويت او ملي غرور ساتنه په پوره اتلولی سره وکړي.

ښه به دا وي چې د افغانستان دښمنان نور د افغانانو د صبر او جرئت امتحان وانخلي، نه دی ځانته سرخوړی پيدا کوي او نه افغانانو ته بلکې په دې حقيقت دی خپل ځان ښه پوه کړي چې افغانستان کله هم نه شي تجزيه کيدلې، د افغانانو ترمنځ ديني، کلتوري، عقيده وي او د قومي جوړښت ريښې دومره غښتلې دي چې د زمانی هېڅ يو طوفان يې نه شي خوزولې، ان شاء الله د افغانانو ملي يووالي او زمکني بشپړتيا به د پخوا په څېر قايم او دايم وي، او ددوی دښمنان به د تل په څېر سرکوزي او نامرام گرځي.

افغانستان د نړی والو رسنيو په هنداره کې

نړېوالو ورځپاڼو هريو کرسشن ساينس مانيټور او انډيپنډنټ د افغانستان په اړه بېلابېل مطالب او تحليلونه خپاره کړي چې لنډيز يې دلته لوستلای شی.

کرسشن ساينس مانيټور :

کرسشن ساينس مانېټور ورځپاڼې په خپله وروستی گڼه کې په بدخشان کې د ځو بهرنيو صحي کارکوونکو پر وژل کېدو تبصره کړې، د يوې تحليلي ليکنې په يوه برخه کې يې راغلي، د افغانستان په يوه ډېر خوندي ولايت کې د شپږو امريکايانو په گډون ۱۰ صحي کارکوونکي ووژل شول.

ورځپاڼه زياتوي، پر مرستندوېو کارکوونکو حمله څرگندوي، چې نړېوال ائتلاف په افغانستان کې د تاوتريخوالي ضد مبارزه کې له ځومرو ستونزو سره لاس و گرېوان دي.

د ځينو راپورونو پر اساس، دغه صحي کارکوونکي به ښايي د جنايت کارو ډلو له خوا وژل شوي وي، خو طالبانو د دې وژنې مسووليت منلی دی.

ورځپاڼه په دې باور ده، چې د مخدره موادو د قاچاق لار پر بدخشان ورسېره ده او ځينې پخوانې قوماندانان په سيمه کې د کار روزگار په لټه کې دي.

په عين حال کې وسلوالو طالبانو په دې وروستيو کې د افغانستان پر سرحدي ولسواليو ځو خلې حملې کړې، له دې سره يې د افغانستان په دې خوندي ولايت کې هم ثبات له خطر سره مخامخ کړی دی.

کرسشن ساينس مانيټور وړاندې ليکي، ځينې تحليلگران په دې باور دي چې وسلوالو طالبانو د نورستان په برگمټال ولسوالی کې جگړه پيل کړه، چې د افغانستان په شمال- له دې جملې، په بدخشان کې ځان ته د نفوذ شرايط برابر کړي.

تېره مياشت گڼو وسلوالو طالبانو برگمټال ولسوالي ونيوله، خو وروسته افغان او ناټو ځواکونو بېرته وسلوال له سيمې شاتگ ته مجبوره کړل.

ورځپاڼه ليکي، په بدخشان کې به د طالبانو نفوذ

ښايي د دې سبب شي، چې د حزب اسلامي ځينې قوماندانان به له طالبانو سره لاس يو کړي.

انډيپنډنټ :

له لندنه خبرېدونکي انډيپنډنټ ورځپاڼې هم په خپله يوه تحليلي ليکنه کې د افغانستان مسئله څېړلې ده.

د دې ليکنې په يوه برخه کې يې راغلي، تېره اوونی ټايم مجلې د يوې اتلس کلنې انجلی عايشې تصوير خپور کړ، چې مېړه يې پزه او غوږونه وربرې کړي دي. دې عکس امريکا ته ټکان ورکړ.

ورځپاڼه وايي، عايشه يو وخت په کابل کې د ښځو په يوه پناه ځای کې منتظره وه چې امريکا ته ورسول شي او هلته يې د ځېرې جراحي عمليات وشي.

هغې ټايم مجلې ته ويلي، کله چې کوچنۍ وه، پلار د طالبانو يوه قوماندان ته په بدو کې ورکړه، ځکه د ورځپاڼې په وينا، د عايشې اکا د هغې د مېړه يو نژدې خپل وژلی و، وروسته عايشه دغه قوماندان ته واده شوه.

کال وروسته د خپل مېړه د بد چلند له کبله له کوره وتښتېده، خو وروسته بېرته د طالبانو لاسته ورغله. ورځپاڼه ليکي، عايشه وروسته د طالبانو قوماندان ته وروستل شوه، چې مېړه يې د هغې جزا د پزې او غوږونو پرې کېدل وټاکل.

انډيپنډنټ ورځپاڼه د ټايم مجلې په حواله زياتوي، د عايشې لېور، هغه ټينگه نيولې وه او مېړه يې چاړه راواخيسته، اول يې د هغې غوږونه بيا پزه وربرې کړه.

د ورځپاڼې په باور، عايشه په افغانستان کې د ښځو په وړاندې د بد چلند يو ټکان ورکوونکی مثال دی او څرگندوي چې په دې هېواد کې له ښځو سره د منځنيو پېړيو د وخت غوندې چلند کېږي.

د عايشې عکاس جودي بيبر ويلي، عايشه ورته زياته ښکلې ښکاره شوه. هغې ته يې ويلي چې ښايست يې زيات دی.

بيبر ويلي، هېڅکله به د عايشې واقعي احساس درک نه کړي، خو هغه څه چې کولای شي دا دي، چې ښايست به يې د هغې په تصوير کې منعکس کړي.

ژباړه: عبدالله "کامه وال"

پخوانی نوم: کارلسن - اسلامي نوم: ابراهيم کارلسن

پخوانی مذهب: دهريه - د هېواد نوم: سويډن

زه دهري وم

نوی مسلمان شوی سويډني وايي چې زما نوم ابراهيم کارلسن دی، زه په يوه دهري کورنی کې زېږيدلی وم زما د کور خلکو له يو بل سره ډېره مينه درلودله او په کور کې بشپړ سکون او آرامی وه.

زما د ژوند ۲۵ کاله په دې کې تېر شول چې خدای له سره شته نه او روحاني ژوند هېڅ معنی نه لري. په دې عمر کې ما يواځې دومره معلومات درلوده چې مسلمان سړي اوږدې جامې اغوندي او ښځې يې خپل سرونه په څادرونو پټوي، خو دومره نه پوهېدم چې دا له کوم ځايه دلته راځي؟

په ليسه کې متعلم وم چې په کتابتون کې مې ژباړل شوی قرآن کريم وليد، هغه مې واخيست او دهغه څه برخه مې ولوسته، که څه هم ماته ياد نه دي چې د قرآن کريم کوم آيتونه او سورتونه مې ولوستل خو دومره راته په ياد دي چې څه مې لوستلي وو ډېر با معنی او منطقي وو، خو زما په ذهن کې د الله تعالی کوم تصور نه و، ځکه چې زما لپاره د نيوټن دا فسلفه چې کائنات پخپله کار کوي کافي وه.

د وخت په تېريدو ما خپلې زده کړې ترسره کړې او ډېرې پيسې مې هم وگټلې. ما به خپل زيات وخت کمپيوټر ته ورکاوه او زما کار او کسب فوټو گرافري وه. يوه ورځ ما په يوه مارکيټ کې د فلم جوړولو لپاره فوټو گرافري کوله چې يو مسلمان په منډه زما څنگ ته راغی او د غصې په حالت کې يې راته وويل: زما د مور او خور عکسونه وانخلې، ما له هغه بخښنه وغوښته او په زړه کې مې وويل: مسلمانان هم څه عجيب خلک دي چې عکس اخستل بد گڼي.

څو ورځې وروسته په سويډن کې زما اړيکې له يو اسلامي مرکز سره ټينگې شوې، له هغه ځای مې د يوسف علي ژباړل شوی قرآنکريم ترلاسه کړ، ډېرې برخې مې په غور ولوستلې، د قرآن کريم لارښووني ډېر په زړه پورې او قانع کوونکې وې، خو تر اوسه لا زما په ذهن کې د الله تعالی د شتون هيڅ تصور نه و، تقريباً يو کال وروسته مې په يوه ښکلې جزيره کې د منې د موسم رنگونه عکاسي کول، اخوا ديخوا خواره واره رنگونه زما په کيمره کې دننه کيدل.

په دې وخت ماته څه عجيب او غريب احساس راپيدا شو، زما ضمير ماته په چيغو چيغو وويل چې ددې ښکلې کائنات ضرور څوک پيدا کوونکی شته چې مسلمانان الله او عيسويان ورته گاډ وايي.

په دې زمانه کې د کمپيوټر په ډگر کې لوی انقلاب راغلی و، ما خپل کمپيوټر د مايکروسافټ له نيټ ورک سره وتړه، په دې کار سره له اسلامي بي بي ايس سره مې اړيکی ټينگې شوې، ددغه پروگرام له لارې زما له يوې نوې مسلمانې شوی امريکايي ښځې شاهدې سره رابطه وشوه، موږ دواړه پخپلو کې د يو بل پر مزاج او طبعيت پوه شوو او د کمپيوټر د آن لائن په ذريعه مو قلمي اړيکی هم ټينگې شوې.

ما او شاهدې د اسلام او د الله تعالی د ذات پر حقانيت باندې خپل خپل خيالات وړاندې کول، شاهدې د اسلام پر حقانيت او د الله تعالی په شتون ډېر معقول او مدلل معلومات ماته راکړل او په دې توگه يې زما د عقيدې په جوړولو کې بشپړه مرسته وکړه، هغه ډېره زياته صابره ښځه وه او زما د هرې پوښتنې ځواب به يې په ډېره ښه طريقه راکوو يوه ورځ زه د خپل کور په لور روان وم، زما ترڅنگ ناست کسان ويده وو، د ملي بس له شيشی نه مې دباندې دښکلی منظرو، باغونو او چمنونو نظاره کوله ددوی ښکلا پر ما عجيب کيفيت راوستی و، د فطرت دغه ښکلا ماته چيغې وهلی چې زه د خپل خالق ننبه يم زما هر يو رنگ په دې خبره گواهي ورکوي چې الله خامخا شته او دا هر څه هغه پيدا کړی دي. ته څه روبوټ نه يې چې په څه پوه نه شې بلکې ته يو ژوندی انسان او د خپل خالق د صفت شاهکار يې. پر طبيعات او کيمياوي علومو غور وکړه چې دهغه په هر يو څيز کې د الله تعالی د موجوديت څرگندې ننبې نښانې ليدل کيږي، د کائناتو هره زره پر يو برحق خالق گواهي ورکوي، هغه پر هر څه قادر دی او هېڅوک ورسره په ذات او صفاتو کې شريک نشته.

سبا سهار ته چې له خوبه پاڅېدلم نو زما په زړه کې د الله تعالی د موجوديت تصور او دهغه له برحق ذات نه مې انکار نه شوای کولې، مگر ددې ټولو حقايقو با وجود بيا هم ما د مسلمانېدو فيصله نه شوه کولای، څه موده پس امريکا ته ولاړم هلته مې هم د اسلام په باره کې ډېر معلومات ترلاسه کړل، د اسلام په باره کې چې څومره کتابونه زما لاس ته راغلل هغه مې ټول په غور او دقت سره ولوستل، يوه ورځ يو چا راته د مسجد آدرس راکړ، زه هلته په لړځېدليو قدمونو لاړم، هلته مې له ځينو مسلمانانو سره ليده کاته وشوه، هغوی ماته څه کتابونه راکړل او ماته دهغوی کوروته د ورتلو بلنه يې هم راکړه، په دې توگه زما په ذهن کې چې کومې پوښتنې وې دهغوی ښه کافي ځوابونه راته راکړل شول، لدې وروسته مې مسجد ته د ورتلو کلکه اراده وکړه، بالآخر د جمعی د ورځې مبارکه ورځ هم راغله، په دې ورځ ما له دوه سوه مسلمانانو سره يو ځای په يو صف کې د الله په وړاندې د عاجزي سر کيښود او په پوره توجه سره مې د الله تعالی بندگي وکړه په دې وخت ما د يو عجيب روحاني سکون احساس کاوه چې کله به مې هم هېر نه شي، يوه شپه ما په انټرنيټ کې د يوې نوې مسلمانه شوې ښځې د مسلمانېدو هغه کيسه ولوستله چې څو ورځې مخکې په اسلام مشرفه شوې وه، دهغې کيسه هم تقريباً زما د کيسې په څېر وه، دهغې ددغې کيسې په لوستلو زما پر زړه څه عجيب کيفيت راغی، له سترگونه مې د اوښکو غټې اوښکې وبهيدې او پر بدن مې لړزه راغله، زړه کې مې وويل: ای الله ! حق مې ځو ځو ځلې پخپلو سترگو وليد مگر له قبلولو نه مې غفلت وکړ نور نشم کولې چې له حق نه سترگې واړوم. د ژمې موسم شروع شوې وه او زما د کوټې له کړکې نه يخه هوا دننه کيدله. که څه هم يخنې مې کيدله مگر له خپل بستری نه پاڅيدلم، غسل مې وکړ او پاکې جامې مې په تن کړی، په موټر کې کېښناستم، مسجد ته يو ساعت لاره وه، مسجد ته رسيدو سره سم مې د اسلام قبلولو هيله ښکاره کړه زما مسلمانو ملگرو ډېره خوښي ښکاره کړه، د ماسپښين لمانځه نه وروسته مې د شهادت کلمه وويله او د مسلمانېدو اعلان مې وکړ، په مسجد کې د موجودو مسلمانانو خوشالي د ليدلو وړ وه او د هر چا په انگو کې د خوشالی څرگندې ننبې ځليدلې.

رښتيا خبره داده چې د حق لاره دهغه چا په برخه کيږي چې دهغه د ترلاسه کولو مينه په زړه کې لري.

شهادت اوونیزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز څښتن: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله کامه وال
مرستیا ل مدیر: عبدالخلیل (محمد خلیل)
دا ړیکي شمېره ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲
ډیزاین: خواجه وحیدالله
د کتنپلاوي تر څارنې لاندې
آدرس: دحزب اسلامي دفتر
سیلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

اظهار سپاس شورای ولسوالی پغمان

ضمن تلاشهای متداوم و خیرخواهانه در پهلوی دعوت اسلامی و همچنان سعی و تلاش هر چه بیشتر محترم داکتر صاحب حبیب الله که به رهنمایی مسؤولین دفتر مرکزی ولسوالی انجام میدهد. بخصوص تهیه، انتقال و ترتیب دوازده باب کانتینر برای متعلمین لیسه قلعه کاشف به منظور رفع مشکلات درسی صفوف تدریسی آنجا که متعلمین اعم از ذکور و اناث مصروف دروس شان میباشند. به همت یکی از ثروتمندان با احساس و معارف پرور مبلغ سی و شش هزار افغانی خریداری گردیده بود ذریعه محترم داکتر صاحب حبیب الله خان همهٔ این خدمات انجام گرفته. بناءً شورای ولسوالی پغمان ضمن تمنایی موفقیت های مزید برایشان اجر جزیل و سرفرازی دارین را تمنا مینماید. دفتر مرکزی حزب اسلامی افغانستان هم بنوبه خویش از خداوند برایشان پاداش اخروی را خواهان است و امیدوار هستیم که این افتخارات سبب تشویق هر چه بیشتر شان گردیده و درین راستا بهتر و بیشتر علاقه مند گردند.

شورای ولسوالی پغمان و دفتر مرکزی
حزب اسلامی افغانستان

گرزي د خصوصي امنيتي ...

دوه کاله وړاندې يو امريکايي کس د خصوصي زندان په لرلو زنداني شو خو د خپل قيد د مودې تر پوره کولو وړاندې خوشي شو.

په دې وروستيو کې په کندهار کې د يوهٔ خصوصي بهرني شرکت کسانو پر يوهٔ چارواکي بريد وکړ چې له امله يې څيني افغان پوليس ووژل شول.

د ولسمشر کرزي پر دغه امر نقد کوونکي وايي چې که دا شرکتونه سم لاسي بند شي شايد د کورنيو چارو وزارت يې تشه ډکه نه کړي.

د دوی په وينا افغان پوليس لا نه د شمير له پلوه او نه هم د فعاليت له مخې دومره دي چې هر ځای امنيت ټينګ کړای شي.

په دغو شرکتونو کې ګڼ شمير افغانانو ته په ښه معاش کار هم پيدا شوی و.

د دوی په بې روزګاريدو شايد نورې لانجې هم پيدا شي. خو د دې پريکړې تاييدونکي وايي بايد هر هيواد يو قانون ولري او داسې ډلې، ټپلې او شرکتونه نه وي چې د خپل خان قانون لري.

جنرال حميد ګل په ايتلافي ...

ايتلافي ځواکونو ته مانيونه ښخ کړي چې افغان حکومتي چارواکي او ځواکونه پرې زيات تګ راتګ کوي. حميد ګل دريم کس ته د چاوديدونکو موادو واسکټ ور اغوستی و چې په افغان او ايتلافي ځواکونو او چارواکو ځان وژونکی حمله وکړي.

په افشا شويو راپورونو کې دا هم ويل شوي چې دغو دريو کسانو ته د جنرال حميد ګل وروستی لار ښونه او خبره دا وه چې له کابل نه د اور لمبې پورته کړي.

راپورونه وايي، هغه کال په افغانستان کې ګوچنی اختر د ډيسمبر په ۳۱ مه و، او يوه ورځ وړاندې د لغمان ولايت په مهترلام کې د ايتلافي ځواکونو له اډې څخه څلور کيلو ميتره لرې، په سړک کې قوی چاودنې شوې وې.

د امريکا د پوځ په افشا شويو راپورونو کې ويل شوي چې په همدې ورځ په سړک کې ښخ شوی د امونيوم ناتيريت قوي اته کړي بمونه کشف او له چاودنې مخکې ايستل شوي وو.

انټرنشنل هيرالډ ټريبون ورځپاڼه ليکي: د ملا کبير په نامه د طالبانو د يوه مشر چې د طالبانو د واکمنۍ په مهال د ننګرهار والي و، د فعاليت مرکز او اډه د پېښور په نوښار کې وه او نوموړی په تېرې فيبرورۍ کې ونيول شو.

په افشا شويو راپورونو کې په ډاګه شوې چې د پاکستان د استخباراتي ادارې پخوانی مشر جنرال حميد ګل د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ په ۱۴ مه نيټه، په جلال اباد کې د ملګرو ملتونو د کارکوونکو د تښتولو پلان هم جوړ کړی و او غوښتل يې چې دا کارکوونکي د پاکستان له درې تنو پوځيانو سره چې په پل چرخي زندان کې بنديان دي تبادله کړي.

دا پوځيان د ډاکټرانو په جامو کې نيول شوي وو. شپږ نور پاکستانيان هم په پلچرخي زندان کې بنديان دي.

جنرال حميد ددې کار لپاره د قاری نقيب الله په نامه يوه کس سره کار کاوه. په راپورونو کې دا نده ښودل شوې چې د حميد ګل دا پلان عملي شوی او کنه.

خو په ګوانتنامو کې د سيد اميرجان په نامه بندي چې له قاری نقيب الله سره يو ځای اوسيده، په خپلو اعترافاتو کې ويلي، چې قاري د جلال اباد د حملې لپاره ماينونه کوټه کړي وو.

د امريکا د ملي امنيت د ادارې په استخباراتي اسنادو کې ښودل شوې چې د ملا حبيب الله په نامه کس، د دريو تنو پاکستانيو بنديانو د خلاصولو په نيت د ۲۰۰۸ کال د جنورۍ په ۲۹ مې نيټې، د پل چرخې په زندان باندې د حملې پلان جوړ کړی و.

انټرنشنل هيرالډ ټريبون ورځپاڼه ليکي: په افشا شويو اسنادو کې يوه ستره اشتباه شوې او په کې راغلي: لشکر طيبه ډله د پاکستان د پوځ يوه څانګه ده او متقاعد جنرال حميد ګل چې د ای ايس ای پخوانی مشر و، دا مهال يې چارې پرمخ وړي.

د ورځپاڼې په باور، جنرال حميد ګل ممکن ددې ډلې ملاتړ کړی وي خو هيڅکله يې په کې کار نه دی کړی.

دغه راز د پاکستان پوځ هم ممکن په يوه او بل ډول لشکر طيبه ډلې ته مرستې ورکړې وي، خو دا ډله د پوځ څانګه نه ده.

جنرال حميد ګل له امريکايي ورځپاڼې کريسچن ساينس مانيټور سره مرکې کې، په ده باندې لګيدلي تورونه رد کړي او دايې بې اساسه، خصمانه او له حقيقته لرې بللي او وايي، که چيري د امريکا د استخباراتو دا حال وي نو دا به د تعجب خبره نه وي چې امريکا د افغانستان جګړه وبايلي.

انټرنشنل هيرالډ ټريبون وړاندې ليکي: د پاکستان د وخت جمهور رييس جنرال پرويز مشرف د ۲۰۰۶ کال د اکتوبر مياشت کې ويلي و چې د ای ايس ای څيني پخواني مشران ممکن د طالبانو ملاتړ وکړي. ده په مشخص ډول د ددې ادارې د هغو مشرانو يادونه وکړه چې د ۱۹۷۹ او ۱۹۸۹ کلونو په موده کې يې د شوروي ځواکونو په ضد، افغان مجاهدينو ته مرستې ورکولې. د مشرف څرګندنې ښايي جنرال حميد ګل ته هم متوجه وي. حميد ګل د مشرف د خواب احساس وکړ او ويې ويل چې د طالبانو ملاتړ نه کوي.

انټرنشنل هيرالډ ټريبون زياتوي: په ۲۰۰۷ ميلادي کال کې د پاکستان پخوانی صدراعظمې بې نظير بوټو جنرال مشرف ته يو ليک واستوه او د جنرال حميد ګل په شمول يې دري کسان په ګوته کړي وو چې ددې ژوند ته يې خطر مخامخ کړی.

په ۲۰۰۸ ميلادي کال کې د هند په ممبيي کې له تروريستي حملو ورسته، د امريکا متحده ايالاتو هڅه وکړه چې جنرال حميد ګل د ملګرو ملتونو په تروريستي ليست کې شامل کړي خو چين د امريکا غوښتنه ويټو کړه.

ورځپاڼه ليکي: جنرال حميد ګل الجزيره تلويزيون سره په مرکې کې د طالبانو په اړه ويلی و: زه په افغانستان کې د طالبانو د مقاومت د داعيې ملاتړ کوم. زه څکه د طالبانو اخلاقي ملاتړ کوم چې ما له دوی سره په تېر وخت کې تړاو درلود.

حميد ګل د ۲۰۰۱ کال د سپتمبر د ۱۱ مې تروريستي حملو څخه لږ وروسته، د القاعده شبکې په اړه هم له يونايټډ پريس سره مرکې کې ويلي و، زه بن لادن او د هغه ملګري پيژنم. زه، په پاکستان، اروپا او منځنې ختيځ کې له دوی سره وم. دوې له معتبرو پوهنتونو څخه فارغ شوي ،عالي بري ليکونه يې تر لاسه کړي اوه په پوره فصاحت او بلاغت په انګليسي ژبه خبرې کوي.

زرداری: روزهای قدرت آی، ...

بی نظیر بوتو، خانم مقتول زرداری و صدراعظم سابق پاکستان، قبل از قتل اش به طور واضح گفته بود که عناصری در آی، اس، آی، قصد کشتن وی را دارند.

به نوشتهء روزنامه، خانم بوتو قبل از قتل اش در ماه دسامبر ۲۰۰۷به دیلی تلگراف گفته بود، در صورت که وی دوباره به حیث رهبر انتخاب شود، اصلاحات را در سازمان استخبارات آن کشور به وجود خواهد آورد.

ولی حالا شوهر بوتو که ۹ ماه بعد از قتل خانم اش قدرت را به دست گرفته، ادعا می کند روز های که آی، اس، آی، پر قدرت تر از رهبران منتخب پاکستان عمل می کرد، به پایان رسیده است.

زرداری به دیلی تلگراف گفته است که وی فکر می کند که حالا همه حسابده اند و یگانه مرجع که باید این موضوع را درک کنند، جامعهء بین المللی است و پاکستان به کمک بیشتر جامعهء بین المللی نیاز دارد.

سوال این جاست که آی، اس، آی، از چه زمانی بدین سو به حمایت از گروه های مسلح افراطی، پرداخته است.

در پاسخ، دیلی تلگراف می نویسد، سابقهء روابط آی، اس، آی، با گروه های افراطی به ۳۰ سال قبل بر می گردد، یعنی زمانی که جنرال ضیاالحق رییس جمهور سابق پاکستان گروه های جهادی را آموزش می داد تا علیه شوروی سابق در افغانستان بجنگند.

به نوشتهء روزنامه، حالا زرداری ادعا می کند که وی دست بالا تر نسبت به آی، اس، آی، دارد، در حالی که استخبارات بریتانیا و امریکا مکرراً تاکید کرده اند که حکومت پاکستان بر فعالیت های افراط گرایان در آن کشور، چشم پوشی می کنند.

گروه های افراطی از دیر زمان بدین سو به صورت آزادانه در مناطق قبایلی واقع در شمال غرب پاکستان فعالیت داشته اند و از همین مناطق جنگ جویان به افغانستان اعزام می شوند تا علیه قوای ایتلاف بین المللی حملات را سازمان دهی کنند.

علاوه بر آن، کمپ های آموزش ملیشه های چریکی در این مناطق سبب ایجاد توطه های تروریستی در بریتانیا و امریکا نیز شده است.

به نوشتهء روزنامه، بسیاری به این اعتقاد هستند که پاکستان باید در برابر این گروه ها جدی تر عمل کند.

دیلی تلگراف می نویسد، زرداری در رابطه به موضوع یک استدلال معقول می کند، و آن این که وی نسبت به جنرال پرویز مشرف رییس جمهور سابق پاکستان، بیشتر عمل کرده است.

تحت رهبری زرداری، اردوی پاکستان عملیات گستردهء را علیه پناه گاه های اصلی ملیشه ها در مناطق شمال غربی به شمول وزیرستان جنوبی و درهء سوات، انجام داده است.

به گفته زرداری، حالا که حکومت در دست غیر نظامیان است، عملیات نظامی از قدرت معنوی بیشتر برخورد دار است، قدرت که در دوران مشرف وجود نه داشت.

زرداری ملاقات اش را با صدراعظم بریتانیا، گفت و گو های رک و راست توصیف کرد و گفت که مذاکرات سبب دوستی دو رهبر شده است.

وی هم چنین گفت که حمایت کامیرون را به خاطر طرح وی برای یک مارشال پلان به مقصد بازسازی افغانستان و پاکستان، جلب کرده است. به گفتهء زرداری، هدف وی این است تا فقر در این دو کشور پایان یابد تا بدین ترتیب از پیوستن ملیون ها جوان که به دلیل فقر به دام افراطیون می افتند، جلوگیری شود.

زرداری ملاقات اش را با صدراعظم بریتانیا، گفت و گو های رک و راست توصیف کرد و گفت که مذاکرات سبب دوستی دو رهبر شده است.

په افغان جګړه کې مو هدف ...

دا هم معلومه نه ده چې دا جګړه ولې پکار ده او د خپل هدف ترلاسه کولو څخه څومره ليرې يوو.))

سناتور وولف وويل په دې وروستيو کې چې ده له لوړ پوړو مخکينيو ديپلوماتانو، متقاعدو پوځي افسرانو او د ټګلارو له جوړونکو سره کومې خبرې کړې دي داسې ورته ښکاره شوې ده چې په افغانستان کې حالات خورا خراب دي.

د ده په وينا ټول په دې باور دي چې د افغانستان په باب يې ټګلاره سمه نه ده او د يوه داسې نوي ګروپ جوړيدا ته اړتيا شته چې د افغانستان او پاکستان د چارو مطالعه وکړي.

سناتور وولف په ۲۰۰۵ کال کې د هغه قانون مسوده هم ليکلې وه چې د عراق د مطالعې ګروپ يې جوړ کړ.

د عراق د مطالعې ګروپ د ډيرو په ګومان بريالی و او د ولسمشر بوش اداره يې اړ ايستې وه چې په عراق کې پر خپل ماموريت له سره غور وکړي.

د ولسمشر اوباما په اوسنی اداره کې د دفاع وزير رابرټ ګېټس او د سي آی اې مشر ليون پينټا د عراق د مطالعې په ګروپ کې غړي ول.

زندان مخفی امریکا در هلمند ...

اطلاع ندارند.

عبدالسلام ضعیف در حالی دست به این افشاگری می زند که خود زندانی نیروهای امریکایی در بگرام و گوانتانامو بوده است و به تازگی از لیست سیاه سازمان ملل خارج شده است.

به دنبال افشای یک زندان مخفی در پایگاه "بگرام"، که نظامیان امریکایی مجبور به صحبت درباره آن شدند، این بار سفیر سابق طالبان در گفت و گو با فارس از زندان مخفی نیروهای امریکایی در هلمند پرده برداشت.

این ولایت که ناآرام ترین ولایت افغانستان محسوب می شود، تا کنون به سبب کشت تریاک و تلفات نیروهای خارجی و غیرنظامیان افغان در رسانه ها یاد می شود اما به نظر می رسد این بار به سبب وجود این زندان مخفی در رسانه مطرح خواهد شد.

مشخص نیست که جرم افغان های زندانی در این زندان مخفی چیست اما به نظر می رسد که بیشتر آنان به جرم همکاری با طالبان زندانی شده باشند.

نگهداري بیش از ۱۰۰۰ نفر در این زندان، نشان می دهد که این زندان باید وسیع باشد اما امکانات موجود در آن و شرایط نگهداری طالبان از رازهایی است که شاید دیر یا زود افشا شود.

باید دید واکنش مقامات امریکا به انتشار این خبر چیست.

سایت ویکی لیکس قصد دارد ...

سایت "Wikileaks" که وظیفه اختصاصی جستجو و نشر معلومات افشاگرانه را بر دوش دارد در تاریخ ۲۵ جولای در حدود ۹۰ هزار سند محرم نیروهای مسلح امریکا را که به عملیات جنگی از ماه جنوری سال ۲۰۰۴ تا دسمبر سال ۲۰۰۹ مربوط میگردند در دسترس همگان قرار داد.

نماینده وزارت دفاع امریکا اعلام داشته که پنتاگون تا به حال زیان که نشر اسناد رسانده ارزیابی نکرده و تحقیقات داخلی ادامه دارند. روبرت گیتس از اف بی ای خواسته تا در تحقیقات پیرامون این موضوع همکاری نماید.

باوجود توجه رسانه های اطلاعات جمعی به نشر این اسناد، شخصیت های رسمی، نمایندگان نیروهای مسلح و کارشناسان عقیده دارند که نشر این اسناد به قابلیت دفاعی امریکا زیان رسانده نمی تواند.

د بشر حقوق: په تېرو ۷ مياشتو کې ...

ويل شوي دوی به د ملکي تلفاتو په مخنيوي کې هڅه کوي.

تر دې مخکې د بشر حقوقو د څار او راپور ورکولو ادارې هم د ملکي تلفاتو په اړه راپور خپور کړی و، چې په هغه راپور کې هم د ملکي تلفاتو کچه لوړه ښوول شوې وه.

د بشر حقوقو په دويم خپاره شوي راپور کې د انتخاباتي کمپاينونو په اړه ويل شوي چې امنيتي ستونزې، د طالبانو مخالفت او د څينو دولتي چارواکو مداخلې په دې برخه ډېر مهم خنډونه دي، چې کانديدان په خلاص مټ کمپاينونه نه شي کولای او خلک هم ښايي د ناامنيو له کبله په دغو انتخاباتو کې برخه وانخلي.

قاچاق مواد مخدر ریشه در خارج ...

وی گفت، در سال های قبل ۸ ولایت افغانستان عاری از کشت کوکنار بود و بعد از سروی جدیدی که از سوی این وزارت صورت گرفته در آیند نزدیک ۲۳ ولایت افغانستان از وجود کشت کوکنار صفر اعلام خواهد شد.

وزیر مبارزه علیه مواد مخدرهمچنان علاوه کرد، در حدود ۱۲۳ هزار هکتار زمین در کل افغانستان کوکنار کشت شد که ۹۹ درصد آن در ولایات هلمند، قندهار، فراه، ارزگان و بادغیس و یک درصد آن در ولایات دیگر کشت شده است.

آقای مقبل می افزاید، قاچاق مواد مخدر ریشه در خارج از کشور دارد، مبارزه علیه آن تنها مسولیت افغانستان نیست، و باید جامعه بین المللی و دولت افغانستان مشترکاً کار کنند تا مواد مخدر از افغانستان ریشه کن شود.

او گفت:

"امروز تنها شاید ما کشت کننده باشیم اما قاچاق کننده اش بیرون از سرحدات افغانستان کی است؟ باید در بخش قاچاق مواد مخدر جامعه بین المللی فعال شود که متسفانه فعال نیست، امروز اگر ما کشت کننده هستیم مواد کیمیاوی از بیرون از افغانستان میاید از کجا میاید."

زرار احمد مقبل وزیر مبارزه علیه مواد مخدر همچنان می گوید، تعداد معتادین مواد مخدر در کشور رو به افزایش است و وزارت مبارزه با مواد مخدر برای جلوگیر آن یک سلسله برنامه های آگاهی عامه با همکاری وزارت حج اوقاف، وزارت معارف روی دست دارد.

در همین حال از شماری از دهقانان ولایت هرات می گویند، در صورتی که دولت برای آنها کمک نه کند آنان دو باره به کشت کوکنار روی خواهند آورد.

یک تن از دهقانان گفت:

"تقاضای من از دولت همین است اگر نرخ گندم را بلند نبرند دهاقین همه به کشت کوکنار را دو باره شروع می کنند."

"دولت به ما می گوید، کوکنار کشت نه کنیم بلاخره ما دیگر چیزی نه دارم از ما گندم است گندم را هم که می کاریم او هم رسیده به من ۳۰ افغانی، هرچه دهقان داریم همه زمین های خود را رها کردند."

این دهقانان می افزایند، دولت بار ها وعده کمک به آنها داده است اما این وعده های شان هیچ گاه عملی نه شده است.